# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

ګڼه: ۱۱

نېټه: ۱۴۰۳/۱۲/۸

پـه افغانسـتان کې هـره اونـۍ پـه بېلابېلو سـکټورونو کې مهم اقتصـادي فعاليتونه او پرمختګونـه رامنځتـه کېـږي او د افغانسـتان اقتصـادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستيو اقتصادي فعاليتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي:



## په دې ګڼه کې لولئ:

١- سردار محمد داوود خان روغتون کې څلور نوې برخې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې

٢- کابل کې د عزيزي بنسټ پانګونه

٣- ازبيکستان ته د محترم ملا صاحب له لاسته راوړنو ډک سفر

# سردار محمد داوود خان روغتون کې څلور نوې برخې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ کال د کب په دویمه نېټه د سردار محمـــد داوود خان ۴۰۰ بستریز روغتون کې څلور روغتیايي برخې ګټې اخیستنې ته وسپارلې. په دغو مراسمو کې د ملي دفاع سرپرست وزیر محترم مولوي محمد یعقوب مجاهد او د وسله والو ځواکونو لوی درستیز محترم قاري فصیح الدین فطرت هم حضور درلود. دغو څانګو کې د ستوني، پوزې، غوږ او الرژۍ د تشخیص او درملنې څانګه، د ارتوپیدي او لیزري پرمختللې سرویس څانګه، د بدن د مصنوعي غړو د جوړولو څانګه او د ملکي ناروغانو د مراجعې څانګې شاملې دي. اسلامي امارت د روغتیا سکټور ته ډېره توجه کړې ده. هڅه شوې چې د روغتیا سکټور ته پراختیا ورکړل شي او هېوادوالو ته باکیفیته روغتیايي خدمات وړاندې شي. اوس په ګڼو روغتونونو کې پېچلې عملیات د افغان ډاکټرانو له لوري ترسره کېږي. د نورو روغتونونو تر څنګ اوس د سردار محمـد داوود خان روغتون کې هم د پخوا په پرتله خدمات ښه شوي او پېچلې عملیات په کې په بریالیتوب ترسره کېږي.

عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د هېوادوالو ستونزو ته په کتو د هېواد په ۳۱۸ ولسوالیو کې د عمومي روغتونونو د جوړېدو له پاره بودیجه منظور کړې ده.د دغو روغتونونو له جوړېدو سره به له یوې خوا د هېوادوالو له پاره روغتیايي خدمات وړاندې شي او له بلې خوا به ۲۷ زره مسلکي او اداري کسانو ته د کار زمینه برابره شي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د هېواد د روغتیا سکټور پیاوړی کړي، څو هېوادوال نورو هېوادونو ته له تګ څخه راوګرځي.

# کابل کې د عزیزي بنسټ پانګونه


د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند تېره اوونۍ په کابل کې د عزیزي ګروپ او عزیزي بنسټ د څو سترو پروژو پرانیستغونډه کې ګډون وکړ. غونډه کې د لوړ



پوړو امارتي مسوولینو او د عزیزي ګروپ د مشر میرویس عزیزي په ګډون یو شمېر کسانو ګډون کړی و. عزیزي بنسټ د کابل ښار په اتمه ناحیه کې په ۳۵۰ جریبه ځمکه یو طبي ښارګوټی جوړوي چې د سرطان د درملنې ۴۰۰ بستریز روغتون، ۲۰۰ بستریز زېږنتون، یتیم خانه، طبي پوهنتون، د نرسنګ انستیتیوټ، ښوونځي، د محصلینو له پاره لیلیه او د ډاکټرانو او استادانو د استوګنې ځای به ولري. په افغانستان کې په دومره لویه کچه د سرطان د درملنې روغتون جوړېدل مثبت ګام او د هېواد له روغتیايي سکټور سره لویه همکاري ده. افغانستان کې د سرطان وژونکې ناروغي شته او د روغتیا وزارت د

مسوولینو په وینا یوازې په کابل کې تېر کال په دې ناروغۍ ۶۰۰۰ کسان اخته شوي دي. افغانستان کې د بهرنیو اشغالګرو له لوري د بېلا بېل ډول وسلو د استعمال له امله یاده ناروغي زیاته شوې ده. د دې تر څنګ د نشه یي توکو کارول او بېوزلي هم د یادې ناروغۍ مهم لاملونه ګڼل کېږي. اسلامي امارت هم د سرطان ناروغۍ د درملنې په موخه ګڼ اقدامات کړي دي او د مسوولینو په وینا، یو د سرطان ځانګړی ۲۰۰ بستریز روغتون یې فعال کړی دی. د عامې روغتیا د مسوولینو په وینا، راتلونکو دریو کلونو کې به په کور دننه د سرطان د درملنې امکانات برابر شي او هیڅ هېوادوال به له هېواد څخه بهر تګ ته اړ نه شي. افغانستان کې د نورو سکتورونو تر څنګ د روغتیا سکتور کې د پانګونې له پاره ښه زمینه برابره ده او پانګوال کولی شي چې په دې برخه کې له شته فرصتونو څخه په استفادې پانګونه وکړي او هېوادوالو ته باکیفیته روغتیایي خدمات وړاندې کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په یاده غونډه کې د عزیزي ګروپ مسوولینو ته مبارکي وویله او له ټولو پانګوالو یې وغوښتل چې په خپل هېواد کې پانګونه وکړي او په دې اړه یې د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ.

# ازبیکستان ته د محترم ملا صاحب له لاسته راوړنو ډک سفر



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کب په څلورمه او پنځمه نېټه ازبیکستان ته په یو رسمي سفر تللی و. محترم ملا صاحب په دغه سفر کې د ازبیکستان له لومړي وزیر او مرستیال لومړي وزیر سره ولیدل او په بېلابېلو مسایلو یې ورسره تفصیلي خبرې وکړې.

د دغه سفر موخه د افغانستان او ازبیکستان تر منځ د اقتصادي اړیکو پراختیا او پیاوړتیا او د ازبیکستاني پانګوالو د پانګونې جذب و. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له ازبیک پانګوالو څخه په افغانستان کې په بېلابېلو سکتورونو کې د پانګونې غوښتنه وکړه.

ازبیک لوري له افغانستان سره د خپلو اقتصادي اړیکو په پراخوالي ټینګار وکړ او د هغو ټولو شریکو شویو طرحو ملاتړ یې وکړ چې د دواړو هېوادونو تر منځ به د اقتصادي اړیکو او سوداګرۍ په پراختیا کې مهم رول ولوبوي.

محترم ملا صاحب له راتګ وروسته د کابل نړیوال هوایي ډګر کې ازبیکستان ته خپل سفر له لاسته راوړنو ډک وباله او زیاته یې کړه چې په بېلابېلو سکتورونو کې یې له ازبیک لوري سره ښه پرمختګونه او بحثونه درلودل.

د ۵۰۰ کیلو ولټ برېښنا مزي غځولو پروژه چې وړاندې یې قرارداد په ۲۵۲ میلیون ډالر شوی و، ۲۲۲ میلیون ډالرو ته راټیټ شو. په دغه سفر کې ازبیکستان ومنله چې له حیرتان څخه تر هرات پورې به د اوسپنې پټلۍ د لومړنیو مطالعاتو د پیل له پاره تخنیکي ټیمونه، په خپل لګښت، افغانستان ته راولېږي چې د لومړنیو مطالعاتو وروسته به یې عملي چارې پیل شي.

دا په روان کال کې ازبیکستان ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال دویم سفر و. ازبیکستان د اسلامي امارت له راتګ وروسته له افغانستان سره ښې سیاسي-اقتصادي اړیکې ساتلي او په بېلابېلو سکتورونو کې یې پانګونه او همکارۍ کړې دي.

ازبیکستان سره د فاریاب د طوطي مېدان د ګازو د اکتشاف او استخراج تړون د یو میلیارد ډالرو په ارزښت لاسلیک شوی دی چې اوس یې د اکتشاف چارې روانې دي او ښه پرمختګونه په کې شوي دي.